مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۱/۱۳

# نړیوال بحران او زموږ د بې‌روایتی فرهنګي قحطي

نړۍ له بدو کړکېچنو او تاوتریخجنو پړاوونو تیرېږي، د لویو جګړو د پېښېدو بالقوه ګواښ تر بل هروخت زیات او ځانګړی دی. ځواکمن هېوادونه د وسلو، تکنولوژۍ او اقتصاد ترڅنګ پر خپلو پیاوړیو ملتونو تکیه کوي. پیاوړي ملتونه د بډایو فرهنګي بنسټونو په مرسته له هرې پېښېدونکې ملي، سیمه‌ییزې او نړیوالې پېښې سره هممهال د مخامختیا ملي روایتونه Narratives جوړوي.

### ملي روایتجوړونه څه ده؟

کله چې یوه ټولنه له لویو پېښو سره مخامخ کیږي، د عامه ذهنیت د سمې رهبرۍ لپاره داسې روایتونه جوړیږي، چې خلک د کړکېچونو په وړاندې له رواني پلوه وقایه کړلای شي. دا مهال ولسونه پر خپلو انتخابي ولسواکو حاکمیتونو باور ځرګندوي اوبالمقابل حاکمیتونه خلکو ته ډاډ ورکوي، چې د دوی په مرسته به هېواد او ملت ژغوري. دغه دوه‌اړخیز باور د فرهنګي فعالیتونو په مدیریت شوي بهیر کې عامیږي او پایله یې دا وي، چې د یوه ډاډمن او پرځان متکي ملت د پېښو له هر ډول ګواښونکي ازمایښته بریالي او روغ راوځي.

په ملي روایت جوړونه او عامونه‌کې فکري مرکزونه، رسنۍ، ادبیات، پوهنتونونه، د تیاتر ننداری، سینما، موسیقي، انځوریز ننداړتونونه او نخبه شخصیتونه مهمه ونډه لري.

په ۲۰۰۴ کې لویې سمندري زلزلې او څونامي په ۱۴ هېوادونو کې نږدې دری سوه زره تنه انسانان ووژل. دا یوه ناڅاپي طبیعي پېښه وه، خو ځینو لویو هېوادونو ډېر ژر په دې اړه د ملي روایتونو په جوړولو او عامولو سره وکړای شول، تر ناورین روسته خپلې ټولنې ډاډمنې کړي او د پساناورین له ګواښمنو څپو څخه یې وژغوري. فرهنګي روایت جوړوونکیو خپل ملتونه یووالي او روحي پیاوړتیا ته وهڅول او حکومتونو خلکو ته ډاډ ورکړ، چې روغتیایي خدمات، خواړه، هستوګنځایونه او د نظم راګرځول یې لومړیتوب ټاکلی او هرڅه مدیریت کیږي. ځینې کمزوري او له فرهنګي پلوه بې‌وزلي هېوادونه هم لګیا وو، چې همداسې چارې عملي کړي، خو ملي روایتونه یې جوړ نه‌کړای شول، په پایله کې تر نورو هېوادونو ډېر په پساناورین دورو کې وځپل شول.

همدا ځوکاله وړاندې د کورونا (کووید) ناروغۍ پرمهال، موږ ولیده چې هرې ټولنې و هېواد په دې اړه له خپلو ټولو فرهنګي اوزارو څخه ګټه پورته کړه او خپل خلک یې د ملي روایتونو د جوړولو له څرنګوالي سره سم د دې مرګوني ناروغۍ په وړاندې راویښ کړل.

- له کورونو مه‌راوځئ
- لاسونه ومینځئ
- یوبل ته ډېر مه نږدې کیږئ
- واکسین جوړیږي، ډاډه اوسئ.
- حکومت چمتو دی، مه وارخطا کیږئ
- خواړه زېرمه کړئ
- واټن ونیسئ
- دا ناروغي پر ټولو ده، ویرېږئ مه...

داسې پیغامونه هر هېواد خلکو ته ورکول، خو فرهنګي بریا متفاوته وه. له دې نړیوال کړکېچ او ناورین سره د ملي روایتونو د جوړولو له اړخه ډېر هېوادونه ناکام وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

همدا څو ورځې وړاندې په وینزویلا کې د امریکایي برید له پېښې سره د لاتینې امریکا ځینو ولسونو او حکومتونو ځنګه یو د بل په ملاتړ ملي روایتونه وپنځول او خپلې ټولنې یې له فکري وارخطایي و تیتپرکتیا څخه وژغورلې؟ ښایي د دې پوښتنې ځواب په بېلابېلو هېوادونو کې متفاوت وي. یوازې لاتینه امریکا نه ده، اوس به د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د ګرین‌لند له دعوا سره دنمارکیان څه کوي؟ کاناډا ځنګه ځان له داسې دعوې خلاص کړ؟ اروپا به د روسیې په وړاندې د یوکراین په لانجه کې ځنګه خپل ملتونه د ملي روایتونو په جوړولو خپل ملاتړي کړي؟ پاکیستان همدا اوس تر ټولو په بد حالت کې دی، خو پوځ یې د روایتونو په جوړولو لاهم د ټوټه ټوټه شوي وجود سره ګنډلي ساتلو هڅه کوي.

ایران د پرځېدا پر درشل ولاړ دی، په ایران کې دواړه ښکېل لوري (واکمني او مخالفان) د خورا ځواکمنو فرهنګي امکاناتو په لرلو سره کوشش کوي ځانته ځانته ملي روایتونه وپنځوي او بریالي شي.
همداسې یې درواخله نور هېوادونه.

## موږ افغانان له دې اړخه په څه حالت کې یو؟

له بده مرغه د ګڼو ګواښونو په وړاندې چې همدا اوس ورسره مخامخ یو، په افغانستان کې د ملي روایتونو او د یوې لویې برخې د اجماع پر بنسټ د ګډ دریځ د جوړولو چاره سمه پېژندل شوې نه‌ده او د دغې چارې اوزار و وسایل هم یا نه‌شته یا یې په کارولونه پوهېږو. موږ د کړکېچ پر مهال د ملي روایتونو د جوړښت لپاره د فکرپنځوونې بنسټونه نه‌لرو. یو اصلي لامل یې دا دی، چې موږ ملي، مشروع او د خلکو له ارادې راپاڅېدلې حاکمیت نه‌لرو. د ملي فرهنګ د ساتنې و پالنې بنسټونه نه‌لرو. پوهنتونونه مو په څه حال کې دي؟ د ملي روایتونو په جوړولو او عامولو کې ښځې تر بل هر ټولنیز قشر زیات اغېز لري او موږ د ښځو خولې، سترګې، لاسونه و پښې ورتړلي او د کور زندانیانې دي. رسنۍ په شدت سانسورېږي، هنرونه تکفیر شوي. ادبیات مسخ شوي، کتاب ته د دوښمن په سترګه کتل کېږي او هغوی چې فکر کولای شي له صحنې ایستل شوي دي. زموږ فرهنګ جلاوطن دی، ځکه فرهنګیان مو لویه برخه جلاوطنه دي. هغه شمېر چې په وطن کې پاتې دي، د سانسور توره یې پر سر رازانګې. جلاوطنې پخپله یو داسې درد دی، چې د ملي روایت جوړونې بهیر زیانمنوي. له هېواده بهر ملي روایت به خامخا د شته واکمنۍ پرخلاف جوړېږي. د افغانستان تاریخ وګورئ، په هېڅ دوره کې به په دومره شمېر استادان، لیکوال، مفکران، متخصصان، فرهنګیان، هنرمندان او روښانفکران ترې وتلي نه‌وي. دا دوره بیخي استثناء ده.

د کړکېچونو په وړاندې د عامه ذهنیت د وقایې لپاره د ملي روایت‌جوړونې فرهنګي بستر نه‌شته. د ټولیزو رسنیو لویه برخه فضا مسمومه او ککړه ده، یا مو ټولیزه پوهه کمه ده، یا دوښمن هېوادونه هڅه کوي، موږ په خپلو منځونو کې ښکېل کړي او یا پټې استخباراتي کړۍ ځینو ته پیسې ورکوي، چې یوازې ښکنځلې و سپکاوی وکړي. په سیاسي ناندریو کې یوازې همدا ښکنځلې او سپکاوی پاتې دی او رغنده فکر نه‌شته. ټولنه یې په دې فضا کې په شدت سره یو بې‌سویې او مبتذل استقطاب ته رسولې. ښایي ځینې به استدلال کوي، چې په ټولیزه فضا کې د نورو هېوادونو خلک هم ښکنځلې کوي او مبتذلې منځپانګې تولیدوي. دا استدلال ځکه سم نه‌دی، چې نورې ټولنې بیا د فکر و عالي روایتونو د جوړولو نور وسایل، تلویزیون، تخصصي رسنۍ، فرهنګي بنسټونه او ګڼ نور پلاتفورمونه لري. ټول خلک یې یوازې په خواله رسنیو کې خپرېدونکیو ناندریو ته ناست نه‌وي.

موږ له بده مرغه په دې برخه کې ډېره تکیه پر همدې خواله رسنیو کوو. د پاکیستان په وړاندې د مخامختیا او شخړې په دغه موده کې د ملي روایت ځای تکفیري او داسې ایډیولوژیک سنګر نیولی دی، چې همدا ایډیولوژیک ځواک پخپله په پاکیستاني مدرسو کې فکري ریښه لري.

له پاکیستان سره د شخړو په دې زمانه کې د ملنګ جان پر کتابونو سانسور او بندیز لګیدلی، بله بخت‌زمینه نه‌شته، چې غږ یې د وطن په دره دره کې وپیچي چې:

اې سربازه یاره خیژه په مورچل باندې...
دا پاکیستانی دوښمن مه‌پرېږده دې خاوره کې!

له بې‌سویې او مبتذلو ترانو څخه پخپله د پاکیستانیت او پردیتوب بوی راځي.

د فرهنګ و هنر و فکر په داسې وچکالۍ کې به ځنګه تر فکري پړاو روسته ملي روایت وپنځول شي او څوک به یې عام کړي؟

بلوچستان له پاکیستان څخه خپلواکي غواړي، په دې اړه زموږ ملي روایت څه دی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تر ډیورند پورې غاړه پښتانه له پاکیستان څخه تر پوزې راغلي، د منظور پښتین په یوه غږ میلیونونه پښتانه راټولیږي، په دې اړه زموږ ګډ او اکثریت فکري دریځ څه دی؟ ایا همدا موږ له پښتون ژغورنې غورځنګ سره د ایمانونو د تول و ترازو د معیارونو له مخې له تکفیري چلند سره نه یو مخامخ؟ په همدې برخه کې موږ کوم ملي روایتونه لرو؟ هغوی چې په دې اړه ملي روایتونو جوړ او عام کړل تکفیر نه شول؟

په ایران کې پېښې په چټکۍ بدلیږي، د افغانستان ګاونډی دی او پېښې یې تر هربل چا پر افغانستان ( بدې یا ښې) اغېزې لري، په دې اړه زموږ ملي روایت څه دی؟ هغه څه چې په منځني ختیځ کې پېښیږي، موږ یې په وړاندې د ځان ژغورنې لپاره څومره فکر کړی او کوم نظریات مو تولید کړي دي؟

منځنۍ اسیا په راروانو شخړو کې تر ټولو مهمه سیمه ده او له موږ سره لاس په لستوني پرته ده، ته وا موږ به یې د اور له تپ څخه خوندي پاتې شو؟ په دې اړه زموږ ملي روایت څه دی؟

چین، هیند او روسیه لګیا دي، چې په نویو زبرځواکونو بدل شي او له لویدیځ سره ټانټې وژووي، درې واړه موږ ته څېرمه پراته دي او په کلکه مو په پېښو کې ښکېل هم دي، په دغې لویې سیالۍ کې زموږ ملي روایتونه څه دي؟

د ساړه جنګ پرمهال د ګډو روایتونو او ملي دریځونو له همداسې تشې سره مخامخ وو، نورو هېوادونو ترې لویې ګټې پورته کړې او موږ یې قرباني شوو.

اوس به له نوې سرې و تودې جګړې سره څنګه مخامخیږو؟

د فکر او ملي روایتونو د تولید شخصیتونه، بنسټونه او وسایل کوم، څومره، څنګه او چېرته دي؟
ایا په دې اړه مو فکر کړی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ